(c) ketabton.com: The Digital Library



دا زموږ په موټه او برکت دی چې هر کال ستا شته تر تېر کال ډېرېږي، که موږ نه یو او لاس در څخه واخلو نو وپوهېږه چې دا اوپره بزګران به دي غوښې اومې اوخوري، سر ببره پر دې په وېش کې لحاظ خورا ډېر وکړه او هم د سپین ګل خور او خوریې دي دواړه په بلا وخوړل او پر میراث یې تا غېږ راوګرځوله. اوس بیا هم موږ بې انصافه بولې او هر چاته دي خوله وازه کړې وي او زموږ بد ورته وایې. د ګړدي په خور دي هم خورا غټې ولور واخیست، که چیري ستا د مړه پلار لحاظ ونه کړم نو وپوهېږه چې د ګنګا خاوري به دي کړم. پر لاره سم څه چې خدای برکت در کړي".

یوه ورځ په داسې حال کې چې د خان هیڅ فکر او توقع نه وه ملاصاحب د هغه په انګړ ور ننووت. خان دباندې په انګړ کې ولاړ و او سمدلاسه یې ملاصاحب خپلې خونې ته بوت وروسته له عادي روغبړ څخه ملاصاحب ورته وویل چې:

"زه پوهېږم چې په دغو وختو کې ستا او د سپین سپې ښه نه سره غاپي د لیل یې هم ماته څرګند دی".

سپین یواځې پر تاسې غورځنګ نه کوي ما هم درسره مل بولې خدای دي ده ته انصاف ورکړي، خو چې بیا زه فکر وکړم له خان سره ووایم چې اوس لا هم زلمی دی او د دنیا سړې تودې باندې تېرې سوې نه دي، ګوندې سم سي، خدای به هدایت ورته وکړي، د دې لپاره چې ستا او د سپین په منځ کې روابط سم سي ما یو فکر کړی دی که ستا راسره خوښه وي نو زه به د هغه د اجرا لپاره کوښښ وکړم، هغه دا دی چې د سپین یوه کمندره غوندي خور ده هغه به ستا زوی (ژړ) ته وغواړو او هم به ستا لور (وړانګو) په خپله سپین ته ورکړو چې په دې توګه د دواړو کورنیو په منځ کې دوستي او ملګري نوره هم ډېره سي او دغه اوسنې تول



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

